# پهديني اوامرو کې د چاپيريال ساتنې ځای

چاپيريال دالله تعالی مخلوق دی زموږ شاوخوا ټول موجودات چاپيريال نومیږي،
په مجموع کې دوه ډوله چاپيريال ليدل کیږي. لومړی ژوندی محيط چې انسانان،
حيوانات،نباتات او ذره بيني اجسام چې په سترګو نه ليدل کیږي پکې شامل دي.
دوهم غير ژوندی محيط لکه اوبه،هوا،خاوره او داسې نور. لايزال رب د طبيعت
نظام دا ډول خلق کړی دی چ،،د اجزاوو په منځ کې يې يو طبيعي تعادل وجود
لري او ددې ټولو په پيدایښت کې دالله ج عظيم حکمت پروت دی هغه داچې دا
ټول شيان الله ج د انسانانو فايدې لپاره پيدا کړي دي. د ځمکې طبيعې چاپيريال
د ايکو سيستم په نامه يادیږي الله ج ايکوسيستم داسې جوړ کړی دی چې پدې
سيستم کې ټول موجودات يو له بل سره مستقيم او غيرمستقيم ډول تړاو لري او
د هر يو ډيرښت يا کمښت په دا نورو مثبت يا منفي تاثيرات لري. هر څه چې لا
يزال رب منځ ته راوړي په بشر باندې يې د ساتلو امر هم شوی دی ځکه الله ج
دمخلوقاتو ساتل په الله تعالی د ايمان راوړلو يوه برخه شميرل کیږي او موږ بايد د
الله ج ټول مخلوقات وساتو چې حرمت يې حفظ شي. د مثال په ډول په هوا کې
د يوي ۲۱ فيصده ده که تر دغه ډيره شې ځمکه کيدای شې د اکسيجن اندازه
کوچني لمبي څخه و سوځي او که تر دې لږه شې ټول ژوندي مخلوقات به ځينې
مړه شي. اسلام هغو کسانو ته په عذاب سره اختار ورکړی دی چې ونې او ځنګ
لونه له منځه وړي،اسلام هغه دين دی چې خپلو پيروانو ته دنړۍ د خوندې ساتلو
درس ورکوي،اسلام په خپلو پاليسو کې ايکولوژيکې انډول يعنې ايکولوژيکې بيلا
نس نيولی دی،ايکولوژيکې انډول يوه باثباته چاپيريال ته ويل کیږي. په اسلام ک
ې ځکه انسانان د چاپيريال د ساتلو لپاره ګمارل شوې دي چې بل هيڅ مخلوق ددې
کار توان نلري انسان يواځينی مخلوق دی چې الله تعالی د ځمکې د مسؤل په توګه
خلق کړی دی،دا مسؤليت د اسلام له نظره ډير سنګين او ستر مسؤليت دی چې
غير له انسان نه يې بل هيڅ مخلوق قبلولی هم نشي. په اسلام کې د چاپيريال او
انسان په منځ کې اړيکه د ټولنيز ژوند يوه برخه بلل کیږي، دداسې ټولنيز ژوند
برخه چې په هغه کې د احقيقت منل شوی چې ټول يو خالق الله ج ته عبادت کوي
ددې ترڅنګ انسان د ټولو هغه مخلوقاتو د حفظ او ساتلو مسؤليت لري چې په دې
نړيوال چاپيريال کې ژوند کوي. د اسلام مبين د چاپيريال د پاکوالې امر هم کړی

دی لکه څنګه چې د خپل کورد پاکوالي خیال ساتی همدرانګه د خپل ښار او ت
ولنې پاکوالي ته هم پاملرنه وکړی. په اسلام کې د چاپیریال ارزښتونه په ډیرو
،ایتونو او احادیثو سره ثابت شوې دي که هرڅومره یې بیان او ولیکو بسنه نه کوي
راځی چې د پاک چاپیریال د اهمیت او ارزښت په اړه خلکو ته لارښووون،،او
پیغامونه ورکړو تر څو د پاک ژوند خاوندان او د ډول ډول ناروغیو څخه په امن شو
،هره ورځ د چاپیریال ساتنې ورځ ده. د نړی ډیرې فلسفې انسان د دنیا دکائناتو
مطلق بادار معرفي کوي، چې کولای شي د خپلو ګټو او غوښتنو موافق بغیر د کوم
حساب کتاب نه په نورو مخلوقاتو کې هر قسمه تصرف وکړي آن که د انسان دا کړ
نې د نورو کائناتو او مخلوقاتو لپاره د فساد یا هم له منځه وړولو سبب ګرځي، خو
د دې برعکس بعضې نورې انساني فلسفې په دې آند دي چې انسان په نورو
مخلوقاتو باندې هیڅ غوروالی نلري، او انسان هم د نورو میلیونونو مخلوقاتو په
شان یو مخلوق دی، زه خپل کوښښ کوم چې د اسلام په رڼا کې د انسان او نورو
کائناتو خپل منځي اړککي او ارتباطات یو څه واضح کړم. د انسان اوکائناتو تر من
ځ د رابطې شکل ته د دین اسلام کتنه په ایماني او نظري تصوراتو عیاره ده، چې پاې
یي په داسې تفصیلي احکامو شویده چې د انسان، حیوان، ځمکې او طبیعې زیرمو
اړیکه په ډیره ښائسته طریقه سمبالوي. پدغه اړیکه کې تر ټولو لومړی زمونږ نظر
ددې کائناتو تر منځ توازن راجلبوي کوم چې قرآن کریم ثابت کړي دي، هغه داسې
چې الله جل جلاله انسان ته ډرر عزت ورکړی دی، د نورو مخلوقاتو نه بلل او جدا
پیدا کړی دی الله ووایي: (وَلَقدْ كرّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي البَرّ وَالبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُم
او یقینًا :ژباړه(۷۰:الاسراء) (مِّنَ الطَّيّبَاتِ وَفَضّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِّمّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا
(په سورلیو باندې) او مونږ دوی،یقینًا مونږ د ادم اولادې ته ډرر عزت ورکړی دی
په وچه کې او په سمندر کې سواره کړي دي او مونږ دوی ته خوندور پاکیزه شیان
،ورکړي دي او مونږ دوی په خپل مخلوق کې په ډررو زیاتو باندې غوره کړي دي
غوره کول. بیا یې د انسان شاو خوا ټول کائنات او مخلوقات د هغه لپاره تابع ک
ړددي تر څو ترې په سمه توګه ګټه پورته کړي او د راتلونکې لپاره یې ساتنه وک
ړي الله تعالی ووایی: الله هغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکه یې پیدا کړي دي او
له بره نه یې اوبه نازلې کړې دي، پس په هغو سره یې له میوو نه تاسو لپاره رزق
راویستلی دی او تاسو لپاره یې بړړی مسخرې کړې دي، د دې لپاره چې هغه (ب
ړړی) د هغه په حکم سره په سمندر کې روانې وي، او تاسو لپاره یې نهرونه مسخر
او تاسو لپاره یي لمر او سپوږمی په کار لګولي دي، په داسې حال کې ۳۲کړي دي

چې د قانون مطابق ګرځي او تاسو لپاره یې شپه او ورځ په کار لګولي دي. انسان د نورو میلیونو مخلوقاتو په څرر ندی چې په نورو بهتري نلري، بلکې یو عزتمند شریف مخلوق دی چې ټول طبیعت د ده لپاره تابع ګرځول شویدی چې باید استفاده ترې وکړي. خو بل پلو اسلام د دې خبرې ټینګار کوي چې انسان د ټولو کائناتو مطلق بادار او سردار ندی، چې څه ورته ښه ښکاري هغه کولای شي، بلکې هغه مرتبه او د نورو مخلوقاتو نه امتیاز انسان ته هیڅکله د دې حق نه ورکوی چې نور کائنات خراب او تباه کړی، او طبیعې شتمني بې ځایه ولګوي، ځکه حقیقې م الک خو الله -جل جلاله- دی، دانسان رول او وظیفه په کائناتو کې د الله تعالی خلا فت دی، دا پدی مانا چې انسان باید هغه سپارښتنې عملي کړي د کومو د لارې چې د کائناتو څخه استفاده او ګټه اخیستلی شي، د پرمختګ او ترقي لامل یې ګرځ ي، پداسې حال کې چې نورو انسانانو او مخلوقاتو ته به ضرر او نقصان نه رسوي. او کله چې ستا رب ملایکو ته وویل: بې شکه زه په ځمکه کې یو خلیفه پیدا کوونکی یم، هغوی وویل: ایا ته په هغې کې داسې څوك پیدا کوې چې په هغې کې به ورانی کوي او وینې به تویَوي؟ حال دا چې مونږ ستا له ستایلو سره تسبیح وایو او ستا پاکوالی بیانوو، (الله) وویل: یقینًا زه پوهېږم په هغه څه چې تاسو پرې نه پوهېږئ. اسلام نباتاتو او کرنې ته ځانګړې پاملرنه کوي، که هغه د ځان ، یا د نورو انسانانو او مخلوقاتو د ګټې لپاره وي چې په دې نړۍ کې سره په ګډه اوسېږی! زمونږ پیغمبر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم مونږ ته لارښونه کوي هغه وایي: داسې څوک نشته دی چې د کائناتو دګټې لپاره یو څه خپله وکري یا د نورو سره په کې ګډون وکړي، بیا ترې مرغ، انسان او حیوان خوراک کوي مګر د هغه لپاره صدقه ده. بلکې په ډېرو سختو شېبو او حالاتو کې په مسلمانانو زمونږ عزتمند پیغمبر صلی الله علیه وسلم غږ کوي چې د چاپیریال په ساتنه او د ځمکې په کرهڼه او پرمختګ کې هیڅ راز ډځې مه سپموي که څه هم په دې باوري وي چ ې خپله ترې ګټه نشم اخستلای، هغه وایی: کله چې قیامت قایم شي او تاسې یو کس سره په لاس کې نیالګي وي نو هغه دې د کرلو تلوار وکړي که وتوانید د هغه لپاره به صدقه شي د ځمکې آبادي او پرمختګ د قیامت د راتګ په سختو شې بو او شرایطو کې بیا هم زمونږ پیغمبر موخه ګڼلې ده او هغې ته یې عبادت ویلی دی. اسلام د چاپیریال په ساتنه ټینګار کوي، او طبیعې زېرمې او سرچینې د ضایع کیدو خرابیدو او ککړتیا نه دساتنې غږ کوي، خلکو ته یې یو پوره پروګرام وړاندې کړیدی چې د(الوقایة خیر من العلاج)په اصل ولاړ دی، ښکاره بیلګې یې:

شخصي پاکۍ ته پاملرنه، د طبيعې شتمنيو ساتنه او دهغې په  استعمال کې اقتصاد او ميانه روي، او د هغو خرابول او ککړتيا جرم  ګڼل دي، چې ځينې نمونې په لاندې ډول دې: اسلام د طبيعې شتمنيو کارونه کې اسراف حرام کړی دی، چې سر کې د اوبه استعمال دی که څه هم يو څوک پرې د الله د عبادت لپاره تياري لکه اودس  کوي. دقوت او نفوذ خاوندان يې د طبيعې شتمنيو د انحصار نه چې نورو خلکو ته د زيان سبب کيږي منع کړي، د اوبو انحصار يې حرام کړی دی(د طبيعې سرچينې په توګه) د اور انحصار ناروا دی (د انرژۍ  د سرچينې په توګه) او د څرځايونه انحصار بند دي. اسلام ټول هغه څه چې زمونږ شاو خوا چاپيريال ککړ وي د هغې نه  ممانعت کوي، لکه په ولاړو اوبو کې متيازې کول ځکه هغه  اوبه پليتوي، او په سيوري او  لارو کې د د قضا حاجت نه کول، ځکه دغه داسې ځايونه دي چې خلک پرې روان ، او  يا ورته لاروي د ستړياو په وخت د ارام لپاره تم کيږی او هغوي ته ضرر دی دا تير شوی مثالونه مش نمونه خروار ده ځکه  اسلام هغه دين دی چې  چاپيريال ساتنه، پاک،، نه يوازې نکک عمل ګڼي بلکې هغه د ايمان نيمه برخه ده او د لارې نه د مضر شيانو لرې کول نه فقط يو ښه کار دی بلکې د ايمان يو جزء دی

**لیکوونکی : خالد رازق**

سرچينې

قرآن او حديث

د چاپيريال ساتنې اساسات کتاب ليکوال پوهنمل محمد داود شيرزاد